د کابل پوهنتون د ټولنيزو علومو علمي-څېړنيزه مجله
مجله علمی-تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون کابل
Journal of Social Sciences
Kabul University
e-ISSN: 3078-557X
P-ISSN: 3078-6657

# د زابل ولايت د انگورو د بسته‌بندۍ ستونزې، حل‌لارې او اقتصادي تحليل

**نوماند پوهنيار احسان الله سعد[۱] ، نوماند پوهنيار اسمعيل لبيب[۲] ، پوهنيار محمد نادر شيرزاد[۳]**

[۱]ملي اقتصاد څانگه، اقتصاد پوهنځی، میرویس خان نیکه پوهنتون ـ زابل، زابل، افغانستان

[۲] د مالي او بانکي چارو څانگه، اقتصاد پوهنځی، میرویس خان نیکه پوهنتون ـ زابل، زابل، افغانستان

[۳]باغدارۍ څانگه، زراعت پوهنځی، میرویس خان نیکه پوهنتون ـ زابل، زابل افغانستان

برېښناليک: ehsanullahsaad01@gmail.com

## چکیده

دا څېړنه په زابل کې د انگورو د بسته‌بندۍ په ستونزو، حل‌لارو او اقتصادي تحليل باندې را څرخي. د څېړنې موخه دا ده، چې ستونزې په گوته کړي، حل‌لارې ورته وړانديز او يو اقتصادي تحليل تر سره کړي. په څېړنه کې کيفي او کمي گډ ميتود کارول شوی دی؛ د پوښتنليکونو په وسيله د انگورو د بڼوالو او اړوند کسانو څخه اطلاعات راټول شوي. له تحليل وروسته موندنو وښوده، چې د دوديزې بسته‌بندۍ طريقې ۱۷.۹٪ د محصول د خرابېدو لامل کېږي ۵۳.۵٪ گډونوالو ويلي، چې ناسمه بسته‌بندي د انگورو په خرابېدو کې مهم رول لري، د معياري بسته‌بندۍ لپاره د عصري ماشين آلاتو او دولت د ملاتړ کمښت اصلي ستونزې دي. د بسته‌بندۍ د موادو د نرخونو کمول، د يادو توکو د توليدي فابريکو جوړول، د دولت ملاتړ زياتول او بڼوالانو ته د معياري بسته‌بندۍ په اړه پوهاوی ورکول د يادو ستونزو لپاره وړانديز شوې حل‌لارې بلل شوې دي.

**واژه های کلیدی** انگور؛ د بسته‌بندۍ ستونزې؛ زابل ولايت؛ معياري بسته‌بندي

# Grape Packaging Challenges, Proposed Solutions, and Economic Analysis in Zabul Province

**Ehsanullah Saad [1*], Ismail Labib [2], Mohammad Nader Sherzad [3]**

*[1]Department of National Economics, Economics Faculty, Mirwais Khan Nika University-Zabul, Zabul, Af*
*[2]Department of Banking and Finance, Economics Faculty, Mirwais Khan Nika University-Zabul, Zabul, Af*
*[3]Department of Horticulture, Agriculture Faculty, Mirwais Khan Nika University-Zabul, Zabul, Afghanistan*
Email: ehsanullahsaad01@gmail.com

## Abstract

This study examines the challenges of grape packaging in Zabul Province and proposes solutions, supported by an economic analysis. Using a mixed-methods approach, data were collected through questionnaires from grape orchard owners and relevant stakeholders. The findings indicate that traditional packaging methods cause 17.9% product spoilage, while 53.5% of respondents identified improper packaging as a major factor in grape deterioration. Key challenges include the lack of modern packaging machinery and insufficient government support. The study recommends reducing packaging material costs, establishing local production facilities, strengthening government support, and improving farmers' awareness of standardized packaging practices to minimize losses and enhance economic returns.

**Keywords** Packaging Challenges; Standardized Packaging; Grapes; Zabul Province

ارجاع: سعد، ا.، لبيب، ا. و شيرزاد، م. ن. (۱۴۰۴). د زابل ولايت د انگورو د بسته‌بندۍ ستونزې، حل‌لارې او اقتصادي تحليل. *ژورنال علمی- تحقیقی علوم اجتماعی- پوهنتون کابل* ۸(۴). ۲۴۷-۲۶۲. https://doi.org/10.62810/jss.v8i4.418

**سریزه**

بسم الله الرحمن الرحيم، الحمدالله رب العالمين، و الصلاة و السلام على أشرف الأنبياء والمرسلين و على آله و صحبه اجمعين، و بعد:

انگور چې لاتيني نوم يېVitis viniferaLدی، یو له پخوانیو مېوو څخه دی، چې د Vitaceae په کورنۍ پورې اړه لري.(Urbi et al., 2014) په نړیواله سطحه په مجموعي ډول په ۶.۹ میلیون هکټاره ځمکه باندې انگور کرل کېږي، چې ۷۶ میلیون ټنه حاصلات لري، چې په هر هکټار ځمکه کې ۱۱ ټنه مجموعي حاصلات کېږي. په نړۍ کې د انګورو لوی تولیدوونکی هیواد چین دی، چې ۱۳.۰۸ میلیون ټنه تولیدات لري، چې د نړۍ د ټولو انگورو ۱۶.۸ سلنه جوړوي. په دويم قدم کې ایټالیا ۷.۱۷ میلیون ټنه، امریکا ۶.۶۸ میلیون ټنه، فرانسه ۵.۹۱ میلیون ټنه، هسپانیه ۵.۳۹ میلیون ټنه او ترکیه د ۴.۵۵ میلیون ټنه په تولید سره د نړۍ د انگورو لوی تولیدونکي هیوادونه دي. افغانستان د ۹.۵۵ زره ټنه انگورو په تولید سره د نړۍ د انگور د لویو تولیدوونکو هیوادونو تر مینځ په شلم مقام کې قرار لري (National Research Centre For Grape, 2017).

د FAO سازمان د ۲۰۲۳م کال د راپور پر بنسټ، په نړۍ کې شاوخوا ۶.۶ میلیونه هکټاره ځمکه کې انگور کرل کېږي، کوم چې ۷۲.۵ میلیونه ټنه حاصلات ورکوي او اوسط حاصل یې ۱۰.۹ ټنه په هکټاره دی. چین د نړۍ لومړی تولیدونکی هېواد دی (۱۳.۵۷ میلیونه ټنه، ≈۱۸.۷٪)؛ ایټالیا دویم (۶.۶۷ میلیونه ټنه) او فرانسه په درېیم مقام کې ځای لري (۶.۲۱ میلیونه ټنه). له دې وروسته امریکا (۵.۳۶ میلیونه) او هسپانیا (۴.۸۲ میلیونه) راځي. په ۲۰۲۲ کال کې افغانستان شاوخوا ۹۱۰ زره ټنه انگور تولید کړی او په نړیواله سطحه یې اتلسم مقام خپل کړی دی(FAO, 2023).

څرنگه چې افغانستان هم د انگور د تولید یو لوی تولیدوونکی هیواد دی او په زیاته پیمانه انگور بهرنیو هیوادونو ته صادروي؛ نو اړتیا پېښېږي چې صادرېدوونکي انگور بسته‌بندي شي، تر څو له یوې خوا د خرابېدو څخه وساتل شي او له بل لوري یې گټه دا ده، چې بسته‌بندي د انگورو عمر زیاتوي او کیفیت یې پخپل حال پاتې کېږي . دا چې په افغانستان کې د انگورو د بسته‌بندۍ لپاره کومې طریقې او ولې کارېږي، د بسته‌بندۍ اړوند د بنوالو روزنه او پوهاوی څنگه دی، د انگورو د خرابېدو اصلي لاملونه څه دي. د بسته‌بندۍ پر وړاندې کومې ستونزې پرتې دي او د دې ستونزو حل لارې څه دي؛ نو په همدې موخه غواړو دا څېړنه په زابل ولایت کې تر سره کړو، د څېړنې د تر سره کولو لپاره د

کیفي-کمي میتود څخه استفاده کوو، د څېړنې لپاره اړین معلومات د معیاري پوښتنلیکونو په وسیله راټولېږي.

په زابل ولایت کې د انګورو تولید د بنوالي ډېره او مهمه برخه ده، خو د انګورو د بستهبندی د غیرمعیاري طریقو له امله د محصول د ضایع کېدو کچه لوړه شوې ده، چې د دې سره د محصول کیفیت ټیټېږي او بنوالان له اقتصادي زیان سره مخ کېږي. د موجودو شواهدو له مخې د معیاري بستهبندی نشتوالی، مناسبو موادو ته نه لاسرسی، د بازار د اړتیاوو نه پېژندنه او د مسلکي تخنیکونو د زده کړې کمبود هغه مهمې تشې دي، چې تر اوسه یې دقیق علمي ارزونه نه ده شوې. له همدې امله د دې څېړنې موخه هم داده، چې د زابل ولایت د انګورو د بستهبندی موجودې ستونزې تشخیص کړي؛ د بنوالو، پروسس کوونکو او سوداګرو نظرونه راټول کړي او د معیاري بستهبندی لپاره عملي، اقتصادي او محلي حل‌لارې وړاندې کړي. دغه څېړنه به د پوښتنلیک له لارې ترسره کېږي او تمه ده، چې د ستونزو د ریښو په کشفولو او د حل‌لارو په وړاندې کولو سره د انګورو د بازار موندنې په بهیر کې د پام وړ اغېز ولري.

د دې څېړنې موخې عبارت دي له:

۱. د بستهبندی د موجوده کلاسیک سېستم د کارولو عوامل پلټل.
۲. په زابل ولایت کې د انګورو د محصولاتو د نه ساتل کېدو او په موسم کې د خرابېدو عوامل څېړل.
۳. د انګورو د بستهبندی په برخه کې د ستونزو معلومول.
٤. د انګورو د بستهبندی پر وړاندې د شته ستونزو لپاره حل‌لارې موندل.
۵. د څېړنې له تر سره کېدو وروسته به لاندې سوالونو ته ځوابونه پیدا کړو:
٦. ولې د انګورو بنوالان د بستهبندی کلاسیک (پخوانی ) سېستم کاروي؟
۷. په زابل کې د انګورو د محصولاتو نه ساتلو او په موسم کې د خرابېدو عوامل څه دي؟
۸. د انګورو د بستهبندی په برخه کې ستونزې څه دي؟
۹. د انګورو د بسته پر وړاندې د ستونزو حل‌لارې څه دي؟

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی، چې د انګورو د تولید په برخه کې د بستهبندی اساسي رول روښانه کوي او د بازارموندنې، ارزښت لوړولو او صادراتو د پراخوالي لپاره عملي او مؤثرې لارې چارې وړاندې کوي. بستهبندي نه یوازې د محصول د ښکلا او مشتریانو د توجه د جلب وسیله ده؛ بلکې د کیفیت د ساتنې، د مصرف کوونکي د باور د ترلاسه کولو او د بازار په رقابتي چاپېریال کې د

بریالیتوب لپاره یو مهم فکتور ګڼل کېږي. دا څېړنه مرسته کوي، چې زراعتي تولیدات په ځانګړي ډول انګور، د نړیوالو معیارونو سره سم وړاندې شي، چې له امله به یې د بڼوالانو عواید زیات شي، د کارموندنې فرصتونه به ورسره پراخه شي او سیمه‌ییز اقتصاد ورسره هم پیاوړی کېږي. همدارنګه دا څېړنه د کرنیزو محصولاتو په هر پړاو کې د ښه‌والي او اغېزمنتیا د لوړولو لپاره مهم علمي شواهد او لارښوونې وړاندې کوي.




***۱ انځور:*** *د زابل ولایت نقشه*

د بسته‌بندۍ اړوند ډېر او بېلا بېلې څېړنې تر سره شوې دي، چې متنوع موندنې پکې تر لاسه شوې. بسته‌بندي د لوژستیک سېستم یو مهم عنصر دی (Hellström & Saghir, 2007) او د لوژستیک په کړنو او مصارفو باندې لوی اغیز لري((Bowersox et al., 2020).

انګور په افغانستان کې په تازه، وچ شوي او د جوس په توګه استفاده کېږي. انګور نږدې د افغانستان په هره برخه کې وده کوي، خو په کابل، پروان، کاپیسا، کندهار، زابل، جوزجان، هرات او غزني کې د تجارتي تولید په کچه حاصلات لري.(Younisi et al., 2023). ټول داخلي او بهرني مصرف کوونکي په لوړ معیار او ښه کیفیت لرونکې مېوې غواړي؛ نو په همدې پار انګور هم چې یو له مشهورو تازه مېوو څخه دي، باید د محصولاتو ټولولو څخه نیولې بیا وروستي مصرف کوونکي ته تر رسېدو پورې خپل کیفیت وساتي (Dantas et al., 2022). کله چې د بسته‌بندۍ موثره مواد د بسته‌بندۍ د غوره میتودونو سره یو ځای شي، د انګورو د ساتل کېدو عمر زیاتوي؛ د خرابوالي، ګونځې والي او ضربه خوړولو څخه یې ساتي او بهرني مارکېټ ته د صادرېدو چانس یې زیاتوي(Nelson & Ahmedullah, 1976). د انګورو بسته‌بندي Table grape shelf کولای شي د هغه عمر د دوو اونیو څخه تر ۶ میاشتو پورې اوږد کړي او دا موده د انګورو په نوعیت او د ساتن‌ځای

په شرایطو پورې اړه لري.(Nicolosi et al., 2018) د بستهبندي څلور ډولونه: کاغذي، پلاستیکي، اوسپنیزه او ښیښه یي شتون لري (Opara & Mditshwa, 2013)

بستهبندي د زراعتي توکو د عرضې د کړۍ یوه ضروري برخه ده. بسته بندي د تولید کوونکي څخه وروستي مصرف کوونکي ته د توکو په لېږد کې مرسته کوي، بستهبندي تولیدات او د تولید ارزښت ساتي؛ کله چې د عرضې په کړۍ کې حرکت کوي او دا اطمیناني کوي، چې تولید به په محفوظ او خوندي توګه د عرضې د کړۍ هرې برخې او وروستي مصرف کوونکي ته په داسې توګه ورسېږي، لکه څرنګه چې تولید دی (Eddine et al., 2022).

## د څېړنې کړنلاره

### *د څېړنې ځای او وخت*

د څېړنې مکاني قلمرو: دا څېړنه په زابل ولایت کې تر سره شوې ده .

د څېړنې زماني قلمرو: دغه څېړنه د۱۴۰۴هـ ش کال په لومړۍ نیمایي کې تر سره شوې ده .

### *د څېړنې دیزاین*

د څېړنې د نمونې ټولونې ډول: هدفمنده نمونه اخیستنه، چې قضاوتي او نظري نمونه اخیستنه هم ورته ویل کېږي، په دې څېړنه کې کارول شوې او دا د غیر تصادفي نمونه اخیستنې هغه ډول دی، چې په مختلفو حالتونو کې ورڅخه ګټه اخیستل کېږي. په دې ډول نمونه اخیستنه کې څېړونکی هڅه کوي چې د قضاوت، شخصيـ فکر او سوچ او معقولو هڅو څخه د ګټې اخیستنې په واسطه داسې نمونه انتخاب کړي، چې د امکان تر حده پورې د مطالعې وړ نفوس څخه استازیتوب وکړي( Rai & Thapa, 2015)

د څېړنې د نمونې اندازه: نمونه د یوې ټولنې هغه محدوده اندازه افراد تشکیلوي، چې د نوموړې جامعې مجموعي اصل خواص څرګند کړي، چې دغه نمونه د ټولې جامعې (نفوس) استازیتوب کوي، دا چې د څېړنې نفوس مو د انګورو بڼوالان دي، نو د ټولو هڅو سره سره په دې و نه توانېدو، چې د انګورو د لویو، متوسطو او کوچنیو بڼوالو شمېر پیدا کړو؛ خو د زابل د کرنې او اوبو لګولو ریاست د شمېرو له مخې په زابل ولایت کې په ۱۵۸۳۵ هکتاره ځمکه باندې د انګورو بڼونه آباد دي. څرنګه چې زموږ مجموعي نفوس نهدی معلوم د نمونې د اندازې په انتخاب کې د کوکران د فورمول څخه استفاده شوې ده، چې په ۱۹۶۳ میلادي کال کې د Cochran له خوا وړاندې شو (Cochran, )

1977 د ياد فورمول د محاسبې په اساس د ۲۸۸ ښوالو نظرونه د پوښتنليک په واسطه را ټول شوي دي او همدارنګه د ښوالانو څخه په جلا ډول سره پوښتني شوې دي.

$$n = \frac{Z^2 * P * q}{e^2}$$

په پورته فورمول کې:

n: د نمونې اندازه

Z: د باور انټروال

P: په راکړل شوي جميعت کې د نمونې سهم (چې حد اکثر اندازه يې ۵۰٪ يا ۰،۵ ده)

q: 1-p

e: د خطاء درجه ده.

$$n = \frac{1{,}96^2 * 0.25 * 0.75}{(0.05)^2} = 288.12 \cong 288$$

د نمونې حجم عبارت دی له ۲۸۸ څخه او ۳۰۰ پوښتنليکونه ويشل شوي دی، چې ۱۲ پوښتنليکونه په نيمګړې توګه ډک شوي وو او يا يې د لوستلو په برخه کې ستونزې درلودې؛ نو پر همدې اساس ۲۸۸ پوښتنليکونه تحليل شوي دي.

د پوښتنليک باوري والی او اعتبار: د پوښتنپاڼو د داخلي متمرکزيت او پايدارۍ لپاره د Cronbach's Alpha ټېست تر سره شوی او ۲۰ پوښتنپاڼې ښوالو او محصلينو ته وېشل شوي دي. د ياد ټېست ارزښت ۰،۷۹ ؤ، چې د پوښتنليک داخلي متمرکزيت او پايداري څرګندوي او کولای شي د څېړنې لپاره معلومات راټول کړي، دغه ټېسټ لومړی ځل په ۱۹۵۱ ميلادي کال د Lee Cronbach په واسطه معرفي شو (Cronbach, 1951) همدارنګه د اعتبار لپاره د متخصصينو نظرونه واخيستل شول، چې د پوښتنليک اعتبار ترې څرګندېده.

د معلوماتو ډول: په دې څېړنه کې د لومړنيو معلوماتو څخه استفاده شوې ده، چې د لومړنيو معلوماتو لپاره څېړونکي عملاً ساحې ته تللي او هلته يې له ښوالانو سره نېغ پر نېغه ليدنې کړې دي او د هغوی څخه يې د انګورو د بسته‌بندۍ اړوند نظريات د معياري پوښتنپاڼو په وسيله راټول کړي دي.

د معلوماتو منابع: د څېړنې نتيجې ته د رسيدو په خاطر او د دغه څېړنې د تکميل کېدو په خاطر له مختلفو منابعو څخه استفاده شوې ده، چې مهم يې عبارت دي له :

۱: د کتابونو مجلو او رسالو څخه استفاده شوې ده، چې په مأخذونو کې د هغه یادونه شوې ده.

۲: د زابلي بڼوالو څخه د معلوماتو د راټولولو په خاطر پوښتنپاڼې ترتیب شوې او ویشل شوې دي.

**موندنې**

د څېړنې د معلوماتو د راټولولو لپاره معیاري پوښتنلیک ډیزاین شوی ؤ، چې لس پوښتنې پکې ځای پر ځای شوې وې د پوښتنلیکونو له ویشلو او د راټولو وروسته پوښتنې تحلیل شوې، چې د هرې یوې پوښتنې لپاره لاندې ګرافونه جوړ شوي او هر یو ګراف ته مناسبه تشریح ورکړل شوې ده.




*۲ **انځور:** د بسته بندی طریقې (د څېړونکې د ساحوي سروې معلومات، ۱۴۰۴هـ.ش)*

په پورته ګراف کې لیدل کېږي، چې په زابل ولایت کې ٪ ۶۹ بڼوالان د عنعنوي بسته‌بندی څخه استفاده کوي، ٪ ۲۳ بڼوالان د نیمه‌عصري بسته‌بندی څخه کار اخلي، ډېر کم یوازې ٪۸ بڼوالان د عصري بسته‌بندی څخه کار اخلي؛ یعني تر نیمایي زیات د انګورو بڼوال د عنعنوي یا دودیزې بسته‌بندی څخه استفاده کوي.




*۳ **انځور:** د بسته‌بندی د کارېدونکو طریقو د استعمال دلایل (د څېړونکې د ساحوي سروې معلومات، ۱۴۰۴هـ.ش)*

دویمه پوښتنه د تیرې پوښتنې سره اړیکه لري، په دې پوښتنه کې د دې و ضاحت ورکړل شوی دی، چې ولې مخکنۍ طریقې کارول کیږي. دا چې هلته ډېره انتخاب شـوې طریقه عنعنوي طریقه وه، نو دلته یې دلایل یاد شوي دي، چې ارزانه ده. جز د نور له مینځه زیات انتخاب شوی دی ۳۳،۱ سلنه ځواب کوونکو انتخاب کړی دی. همدارنګه د وسایلو او روزنې نشتوالی په ترتیب سره۲۹ سلنه او ۱۴ سـلنه په دویم او دریم زیاتو انتخاب شـویو مواردو کې راځي. په نور انتخاب کې ځواب کوونکو اقتصادي وضعیت مو نه‌دی برابر او پوهاوی نه‌لرو، نو ځکه عنعنوي طریقه کاروو.




***۴ انځور:** د بسته‌بندۍ اړوند د پوهاوي تر لاسه کولو لارې (د څېړونکي د ساحوي سروې معلومات، ۱۴۰۴هـ.ش)*

دریمه پوښتنه داسې مطرح شوې ده، چې د بسته‌بندۍ اړوند مو پوهاوی له کومه تر لاسه کړی دی. دلته د ډیرو ځواب ویونکو ۵۲،۲ سلنه د شخصي ـ هڅو له طریقه د بسته‌بندۍ اړوند پوهاوی تر لاسه کړی او ۲۸ سـلنه بیا ویلي دي، چې د بسـته‌بندۍ اړوند پوهاوی نه لرم، نو لیدل کیږي، چې بنیوال د بسته‌بندۍ اړوند پوهاوی نه لري، په‌دې برخه کې د ذېربط ادارو پاملرنې ته اړتیا لیدل کیږي.




***۵ انځور:** د انګورو د ساتنې موده (د څېړونکي د ساحوي سروې معلومات، ۱۴۰۴هـ.ش)*

په څلورمه پوښتنه کې ځواب ورکوونکو د خپلو حاصلاتو د ساتنې موديې اړوند خپل نظرونه شريک کړي دي، چې معلومېږي د بســـته‌بندۍ د عنعنوي تګلاور د کارولو په صـــورت کې دوی انګور تر ۳ ورځو پورې ساتلی شي. ۲۴،۷ سلنه ځواب ويونکو بيا ويلي دي، چې دوی انګور تر يوې اونۍ پورې ساتلي شي.




***۶ انځور**: د بسته‌بندۍ په برخه کې ننګونې (د څېړونکي د ساحوي سروې معلومات، ۱۴۰۴هـ.ش)*

هغه ســتونزې چې بنوالان د بســته‌بندۍ په برخه کې ورسره مخامخ دي، ۲۴،۲ ســلنه د بســته‌بندۍ د معياري ماشــينونو نه شــتون، ۲۰،۳ ســلنه د دولت عدم حمايت، ۱۸،۸ ســلنه د مسـلکي کارکوونکو نه شتون همدارنګه د زيربناوو کمښت، د بسته‌بندي توکو د نرخونو لوړوالی او د کافي تمويل نه شتون په ترتيب سره هغه ننګونې دي، چې په زابل ولايت کې د انګورو بنوالان ورسره مخ دي. د نور په برخه د مواصلاتي لارو خرابوالی هم د يوې ننګونې په توګه په نښه شوی دی.




***۷ انځور**: د انګور د خرابېدو اصلي لاملونه (د څېړونکي د ساحوي سروې معلومات، ۱۴۰۴هـ.ش)*

د انگورو د بېوالو د ځوابونو پر اســـاس د انگورو د خرابوالي اســـاسي عامل چې ۳۷،۵ ســـلنه ځواب ویونکو انتخاب کړی دی، هغه د سړو خونو نه شتون دی. همداسې د بازار یا مؤثرې تقاضا نه شتون او خراب ټرانسپورټ په ترتیب سره ۲۴ سلنه او ۱۸ سلنه د انگورو د خرابېدو د عواملو په توګه یاد شوي دي.




*۸ انځور: د انگورو په خرابېدو کې د ناسمې بسته‌بندۍ اغیز (د څېړونکي د ساحوي سروې معلومات، ۱۴۰۴هـ.ش)*

په ۷ پوښـــتنه کې په دې تمرکز شـــوی، تر څو څرګند کړي، چې بســـته‌بندي د انگورو په خرابېدو کې څومره رول لري ۵۳،۵ سلنه ځواب ویونکو ویلي دي، چې د انگورو ناسمه بندي د انگورو په خرابېدو کې ډېر زیات اغیز لري، همدارنګه ۲۷ سلنه ځواب ویونکو ویلي دي، چې زیات اغیز لري.




*۹ انځور: د بسته‌بندۍ اړوند د موجوده ستونزو حل لارې (د څېړونکي د ساحوي سروې معلومات، ۱۴۰۴هـ.ش)*

د څواب کوونکو له خوا د دولت حمایت او د نرخو کموالی، د بســـته‌بندی د موادو تولیدي فابریکو ایجاد او د بســـته‌بندی اړوند بنوالانو ته پوهاوی یو د بل سره په کم توپیر سره ۲۶ ســلنه د بســـته‌بندی د موجوده ســـتونزو حل لارې کېدای شي په څلورم قدم کې په اړونده برخه کې د ځانګړو خدماتي تصدیانو ایجاد ۱۸ سلنه د بسته‌بندی د موجوده ستونزو د حل لارې په توګه یاد شوی.




*۱۰**انځور**: د بسته‌بندی اغیز د حاصلاتو په ساتنه کې (د څېړونکي د ساحوي سروې معلومات، ۱۴۰۴هـ.ش)*

په نهمه پوښتنه کې د انګورو په ساتنه کې د بسته‌بندی په رول د ځواب ویونکو نظرونه اخیستل شوي دي ۵۹،۷ سلنه برخه اخیستونکو ویلي دي، چې معیاري بسته‌بندي د انګورو په ساتنه کې ډېر زیات تاثیر لري او ۲۷،۸ سلنه ځواب ویونکو ویلي دي چې زیات اغیز لري.




*۱۱**انځور**: د کاروبار په بېلابېلو برخو د معیاري بسته‌بندی اغیزې (د څېړونکي د ساحوي سروې معلومات، ۱۴۰۴هـ.ش)*

په وروستۍ پوښتنه کې د کاروبار په بېلابېلو برخو باندې د بسته‌بندۍ اغېزې را اخیستل شوې دي، چې ۲۹ سلنه ځواب ویونکو ویلي دي، چې خرڅلاو زیاتوي ۲۸،۷ سلنه ځواب ویونکو ویلي دي، چې نړیوال بازار ته لاسرسي باندې اغیزه کوي. ۲۱،۸ سلنه بیا ویلي دي، چې معیاري بسته‌بندي د انګورو د ساتنې موده زیاتوي او ۱۷،۷ سلنه بیا ویلي دي، چې د کاروبار شهرت ورسره زیاتېږي.

**بحث او مناقشه**

د دې څېړنې علمي تحلیل او موندنې ښیي، چې په زابل ولایت کې بڼوالان عنعنوي یا کلاسیک د بسته میتود کاروي او په دې خاطر یې کاروي، چې ارزانه دی، عصري وسایل نشته او د بسته‌بندۍ په برخه کې روزنه نه‌لري. همدارنګه ۵۹،۷ ٪ ځواب ویونکو ویلي وو، چې معیاري بسته‌بندي د انګورو په ساتنه کې ډېر زیات تاثیر لري. د بسته‌بندۍ اساسي دنده هم دا ده، چې تولید بې عیبه خرګند کړي او د تخریب او خرابېدو پر وړاندې د تولید ساتنه کوي(Stewart, 1995).

په زابل کې د انګورو د محصولاتو نه ساتلو او په موسم کې د خرابېدو عوامل د ځواب ویونکو له خوا بېلابېل په نښه شوي وو، چې له جملې یې ډېر تاثیر کوونکي عوامل په ترتیب سره د سړو خونو نه‌شتون، د بازارونو نه‌شتون، ناسمه بسته‌بندي، خراب ټرانسپورټ همدارنګه د حاصلاتو په وخت کې بارانونه او بېلابېلې ناروغۍ یې د خرابېدو سبب ګرځي. که چیرې د انګورو حاصلات له رسېدو وروسته وځنډېږي او پر وخت حاصلات ټول نه‌شي نو ضایعات زیاتېږي او د انګورو د ساتنې عمر کمېږي(Blanckenberg et al., 2021).

د څېړنې په موندنو کې داسې پایله تر لاسه شوه، چې د معیاري ماشین آلاتو نه‌شتون، د دولت د حمایت نشتوالی، د بسته‌بندۍ په برخه کې د مسلکي کارکوونکو کمښت او د زیربناوو کمښت د بسته په برخه کې عمده ننګونې دي.

د څېړنې د موندنو پر اساس ویلای شو، چې د بسته‌بندۍ په برخه کې د شته ستونزو حل‌لارې عبارت دي: د دولت حمایت او د بسته‌بندي توکو د نرخونو کموالی، د بسته‌بندي توکو د تولیدي فابریکو ایجاد، د بسته‌بندي اړوند بڼوالانو ته پوهاوی ورکول او د بسته‌بندي په برخه کې د ځانګړو خدماتي تصدیو ایجاد کولای شي شته ستونزې راکمې او یا له مینځه یوسي.

**پایله**

دا څېړنه چې په زابل ولایت کې د انګورو د بسته‌بندۍ په ستونزو او حل‌لارو باندې تر سره شوه، په څېړنه کې د کمي او کیفي میتود څخه کار اخیستل شوی ؤ. د معلوماتو د راټولولو لپاره پوښتنلیکونه

ویشل شوي وو، له تحلیل وروسته داسې پایلې تر لاسه شوې، چې په زابل ولایت کې د څېړنې د تر سره کېدو په جریان تر ډېره پورې د بسته‌بندۍ عنعنوي تګلاره( پلاستیکي کڅوړې او ساده صندوقونه) کارول څرګندېږي. همدارنګه څېړنې و ښوده، چې همدا دودیزه بسته‌بندي د انګورو په خرابېدو کې ۱۷،۹٪ رول لري او ۵۳،۵ ٪ ځواب ویونکو ویلي دي، چې د خرابېدو په برخه کې د بسته‌بندۍ رول ډېر زیات دی. همدارنګه د څېړنې د موندنو پر اساس مو داسې پایلې تر لاسه کړې، چې معیاري بسته‌بندي د کاروبار په بېلا بېلو برخو لکه د خرڅلاو زیاتوالی، نړیوال بازار ته لاسرسی، د انګورو د ساتنې مودې زیاتوالی او د کاروبارونو د شهرت په زیاتوالي باندې اغیزې لري.

د انګورو د بسته‌بندۍ په برخه کې د موجوده ستونزو له جملې څخه د بسته‌بندۍ اړوند د ماشین آلاتو نهشتون او په دې برخه کې د دولت عدم حمایت دی او د عمده حل‌لارو څخه یې د دولت حمایت او د بسته‌بندي توکو د نرخونو کموالی، د بسته‌بندي توکو د تولید د فابریکو ایجاد او د بسته‌بندۍ په برخه کې بڼوالانو ته د پوهاوي ورکول د معیاري بسته‌بندۍ لپاره مناسبې حل‌لارې دي.

**وړاندیزونه**

۱. د معیاري بسته‌بندۍ د ماشین آلاتو برابرول: د زابل ولایت د انګورو د بسته‌بندۍ د ستونزو اصلي لامل د معیاري ماشین آلاتو نه شتون دی. نو اړینه ده چې حکومت، خصوصي سکتور او په اړونده برخه کې نړیوالې اداري ګډې هڅې وکړي، تر څو د بسته‌بندۍ معیاري ماشین آلات په سیمه کې برابر او لاسرسی ورته اسان کړي.

۲. د دولت ملاتړ زیاتول: د انګورو د بسته‌بندۍ سکتور ته باید د دولت له لوري ځانګړې پام وشي او حمایوي پالیسۍ عملي شي، لکه مالیاتي اسانتیاوې، د ټکنالوژۍ لګښتونو کې کموالی او د روزنې پروګرامونو تمویل، څو بڼوالانو او سوداګرو ته د معیاري بسته‌بندۍ لاره پرانېستل شي.

۳. د بسته‌بندۍ توکو د تولید د فابریکو جوړول: په سیمه کې باید د بسته‌بندۍ اړوند توکو لکه بکسونه، پلاستیکي کڅوړې او نور اړین مواد تولید شي، چې د وارداتو تکیه کمه او د تولید لګښتونه راکم شي.

٤. بڼوالو او پروسس کوونکو ته د معیاري بسته‌بندۍ روزنه او پوهاوی: بڼوالانو ته باید د معیاري بسته‌بندۍ ګټې او طریقې په منظمه توګه ور زده کړل شي؛ ترڅو دوی د محصول د ساتنې او کیفیت لوړولو اهمیت درک کړي.

۵. د دودیزې بسته‌بندۍ کمول: باید هڅه وشي چې د غیرمعیاري او دودیزې بسته‌بندۍ طریقې لکه ساده صندوقونه او پلاستیکي کڅوړې کمې شي؛ ځکه چې دا د محصول د خرابېدو سبب کېږي او د بازار لپاره زیانمن دي.

۶. د بازارموندنې او صادراتو د پراختیا لپاره ځانګړي پلانونه جوړول: د انګورو د معیاري بسته‌بندۍ د ښه کولو ترڅنګ باید د بازار موندنې او نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي لپاره مشخصه او عملي ستراتیژي وضع شي.

**مننه**

له ټولو هغو علمي اشخاصو، د څېړنې له ګډونوالو او اړوندو ادارو څخه مننه کوو، چې زموږ سره یې د څېړنې په بېلابېلو برخو کې مرسته وکړه او د دوی د همکارۍ په پایله کې دا څېړنه ستاسو لوستونکو او پالیسي جوړونکو لپاره د یو لارښود په حیث وړاندې شوه.

**په څېړنه کې د لیکوالانو ونډه**

تېرو څېړنو ته کتنه، میتودلوژي، د موندنو تحلیل او مأخذ لیکنه، لومړی لیکوال؛ سریزه او پایله دویم لیکوال؛ د پوښتنلیکونو وېش او مناقشه درېیم لیکوال.

**د ګټو تضاد**

په دې څېړنه کې د لیکوالانو تر منځ د ګټو هېڅ ډول تضاد نشته؛ دا څېړنه او مقاله د څېړونکو د شخصي نوښت، زیار او هڅو پایله ده.

## اخځلیکونه

Blanckenberg, A., Opara, U. L., & Fawole, O. A. (2021). Postharvest losses in quantity and quality of table grape (cv. Crimson Seedless) along the supply chain and associated economic, environmental and resource impacts. Sustainability, 13(8), 4450–4471. https://doi.org/10.3390/su13084450

Bowersox, D. J., Closs, D. J., Cooper, M. B., & Bowersox, J. C. (2020). Supply chain logistics management (Fifth edition). McGraw-Hill.

Cochran, W. G. (1977). Sampling techniques (3. ed). Wiley.

Dantas, B. C., Higuchi, M. T., De Aguiar, A. C., Bosso, B. E., & Roberto, S. R. (2022). Postharvest Conservation of ‘BRS Nubia’ Hybrid Table Grape Subjected to Field Ultra-Fast SO2-Generating Pads before Packaging. Horticulturae, 8(4), 285. https://doi.org/10.3390/horticulturae8040285

Eddine, A. N., Duret, S., & Moureh, J. (2022). Interactions between Package Design, Airflow, Heat and Mass Transfer, and Logistics in Cold Chain Facilities for Horticultural Products. Energies, 15(22), 8659. https://doi.org/10.3390/en15228659

FAO. (2023). World Food and Agriculture – Statistical Yearbook 2023. FAO. https://openknowledge.fao.org/server/api/core/bitstreams/6e04f2b4-82fc-4740-8cd5-9b66f5335239/content

Hellström, D., & Saghir, M. (2007). Packaging and logistics interactions in retail supply chains. Packaging Technology and Science, 20(3), 197–216. https://doi.org/10.1002/pts.754

National Research Centre For Grape, I., India National Research Centre For. (2017). National Research Centre for grape.

Nelson, K. E., & Ahmedullah, M. (1976). Packaging and Decay-Control Systems for Storage and Transit of Table Grapes for Export. *American Journal of Enology and Viticulture*, *27*(2), 74–79. https://doi.org/10.5344/ajev.1976.27.2.74

Nicolosi, E., Ferlito, F., Amenta, M., Russo, T., & Rapisarda, P. (2018). Changes in the quality and antioxidant components of minimally processed table grapes during storage. Scientia Horticulturae, 232, 175–183. https://doi.org/10.1016/j.scienta.2017.12.050

Pålsson, H., & Sandberg, E. (2020). Paradoxes in supply chains: A conceptual framework for packed products. *The International Journal of Logistics Management*, *31*(3), 423–442. https://doi.org/10.1108/IJLM-12-2019-0338

Rai, N., & Thapa, B. (2015). A STUDY ON PURPOSIVE SAMPLING METHOD IN RESEARCH.

Stewart, B. (1995). Packaging as an effective marketing tool [Surrey]. Pira International.

Urbi, Z., Hossain, Md. S., Rahman, K. M. H., & Zayed, T. M. (2014). Grape: A Medicinal Fruit Species in the Holy Qur'an and its EthnomedicinalImportance. *World Applied Sciences Journal, 30*(3), 253–265. https://doi.org/10.5829/idosi.wasj.2014.30.03.81114

Younisi, H., Farid, Z., & Joya, K. (2023a). Growth and Instability in Area, Production and Productivity of Grape Crop in Afghanistan. *Journal for Research in Applied Sciences and Biotechnology, 2*(2), 170–175. https://doi.org/10.55544/jrasb.2.2.25